مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تمهید سیلانی

۲۰۲۰/۰۶/۱۴

# د فونيټکي الفبا اصول او ځانګړنې

هره ژبه ځانته ځانګړې ليکدود او الفبا لري، چې د هماغې ژبې په ليکلو او لوستلو کې تر ګټه اخستل کيږي. د يوې ژبې د ځانګړي ليکدود تر څنګ داسې نړيوال ليکدود هم شته چې په ډېرو ژبو کې چې د خپلو ټولو غږونو لۀ پاره ځانګړې نښې نۀ لري، د کارونې وړ دی. دا ليکدود نړيوال دی او د نړۍ په کچه د ژبپوهانو لۀ خوا را منځته شوی دی. خو د ياد ليکدود کارونه ځانته ځينې اصول او ځانګړنې لري، کۀ چيرې دې ځانګړنو او اصولو ته پاملرنه ونشي، نو د يوې ژبې پۀ ليکدود کې ستونزې رامنځته کوي .

لۀ بده مرغه زمونږ پۀ ژبه کې ليکوالان دغو اصولو او ځانګړنو ته پاملرنۀ نۀ کوي او پۀ لوی لاس دا ځانګړنې او اصول تر پښو لاندې کوي،چې دا کار د ژبې پۀ ليکدود کې ستونزې را منځته کوي او لۀ زده کوونکو د ژبې د زده کړې پر مهال لاره ورکوي. ما پۀ دغۀ ليکنه کې د فونيټکي الفبا ځينې اصولو او ځانګړنو ته نغوته کړې چې ستاسو پام ورته را ګرځوم:

۱ ـ پۀ فونيټکي الفبا کې يوه نښه تل او پۀ هر ځای کې د يوۀ غږ لۀ پاره کارول کيږي او د يوۀ غږ استازيتوب کوي. يا پۀ بلۀ وينا فونيټکي الفبا پۀ ژبه کې ثابت او کره ارزښتونه لري. د لته د همدې موضوع د لا ښۀ وضاحت پۀ موخه د پښتو ژبې څو ويبونه د بېلګې پۀ توګه راوړم. لکه da:l يا ) ɖăl(ډال، mandigak( منډيګک ) او landɖ ( لنډ ) پۀ ويبونو کې ( ډ ) د ويبونو پۀ پيل، منځ او پای کې راغلی دی، چې يوازې يوه نښه ورته کارول شوې ده او همدا نښه پۀ درېيو واړو ځايونو کې د هماغۀ يوۀ توري ( ډ ) استازيتوب کوي او د کارونې ثابت ځای لري. دا ډول بېلګې پۀ دري، انګليسي او نورو ژبو کې هم موندلی شو.

۲ ـ پۀ فونيټکي الفبا کې يو غږ تل او پۀ هر ځای کې د يوې نښې پۀ واسطه ليکل کيږي، دا پۀ داسې حال کې ده کۀ حتا پۀ يوه ژبه کې د يوۀ غږ لۀ پاره دوه اختياري نښې را منځته شوي وي، بايد لۀ هغو دواړو څخه يوه نښه غوره شي او ژبپوهان دې پۀ خپله ليکنه کې لۀ پيله تر پايه هماغه يوه نښه وکاروي. د بېلګې پۀ توګه پۀ دري او پښتو ژبه کې د « چ » غږ لۀ پاره دوه نښې Č )او ( tʃرا منځته شوي دي. يا هم د « ښ» غږ لۀ پاره څو ډوله نښې کارول کيږي لکه «ç /ʂ/x̌» :نو ژبپوهانو ته لازمه ده چې پۀ خپلو ليکنو يوه نښه وکاروي. هغه نښه د کارونې او منلو وړ ده چې پۀ نړيواله فونيټکي الفبا کې راجستر وي.

۳ ـ د فونيټکي الفبا د نښو پۀ را منځته کولو او غوره کولو کې د امکان ترحده پورې دې هڅه وشي، چې اسانه او مأنوسه نښې د غږونو لۀ پاره غوره شي، تر څو لوستونکي او زده کوونکي يې پۀ ليکلو او زده کولو کې لۀ ستونزو سره مخامخ نشي .

۴ ـ پۀ غږ پوهنه يا فونيټک کې هڅه کيږي، چې د يوه غږ لۀ پاره يو ډول نښه غوره شي. کۀ چيرې پۀ يوه ژبه کې د يوۀ غږ لۀ پاره دوه ډولۀ نښې ( مرکب او بسيط ) پۀ بڼو رامنځته شوي وي، نو غوره به دا وي چې بسيطه بڼه يې غوره شي او لۀ مرکبو نښو دې پۀ ژبه کې ګټه پورته نشي. ځکه چې لوستونکو او زده کوونکو ته ستونزې زيږوي. د بېلګې پۀ توګه د پښتو او دري ژبې د « چ » غږ چې ورته دوه ډوله ( بسيط او مرکب ) « Č / tʃ »نښې را منځته شوي دي او يا هم دې ته ورته نور غږونه چې دوه ډوله نښې ورته کارول کيږي... د يادو نښو لۀ پاره کولی شئ پۀ دري، پښتو او انګليسي ژبو کې نورې بېلګې هم پيدا کړئ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵ ـ کهٔ کله پهٔ یوه ژبه  کي د یو نوي غږ لهٔ پاره نوي نښه کاروو، نو باید پهٔ لومړي سر کي د نوي نښي غږیز ارزښتونه پهٔ ډاګه کړو او لهٔ هره اړخه یې لوستونکو ته ور وپېژنو. هېره دې نوي چي  موږ پهٔ هغه صورت کي پهٔ یوه ژبه کي د یو  غږ لهٔ پاره نوي نښه رامنځته کولی یا هم  کارولی شو، چي  د  هماغي ژبي پهٔ لیکدود کي د نوموړي غږ لهٔ پاره کومه ځانګړې نښه نهٔ وي موجوده.

۶ ـ ژبپوهان باید پهٔ خپلو لیکنو کي لهٔ دوه ډولهٔ فونیټیکي نښو او لیکدود څخه ځان وساتي، تر څو لوستونکي او زده کوونکي لهٔ ستونزو او سر دردی څخه وژغورل شي... زموږ پهٔ پښتو ژبه کي مجاور احمد زیار د پښتو ژبي د غږونو لهٔ پاره یو ډول نښي کاروي، صابر خویشکي بل ډول، زرغونه زېور بل ډول او اوسني لیکوالو بل ډول نښي کارولي وي دي،چي دا کار پهٔ لوی لاس یوه ژبه  لهٔ منځه وړي او لوستونکو ته یې ستونزې زېږوي. د پښتو ژبي فونیټیکي الفبا لهٔ نړیوالي فونیټیکي الفبا سره ډېر توپیر او پهٔ ناسمه بڼه دود شوي دي، باید لهٔ سره پرې کتنهٔ وشي.

۷ ـ پهٔ لیکنه کي  فونیټیکي الفبا د عادي الفبا سره د توپیر او وضاحت پهٔ موخه معمولاً پهٔ [   ] کي لیکل کیږي .

۸ ـ پهٔ ځینو ژبو کي  لکه انګلیسي او یا هم دې ته ورته نورې ژبي چي لهٔ مرکبو نښو څخه د یو غږ  دافادې لهٔ پاره کار اخلي، باید پهٔ هماغهٔ ژبه کي د یادو غږونو چي مرکبې نښي ورته غوره شوي دي، داخلي او باندني اړخونو ته پهٔ کتو سره پهٔ دقیقه توګه نښي وټاکي. کهٔ لږ  یې نوره هم ساده کړو هغه دا چي ځیني نښي د کلمي پهٔ پیل، منځ او پای کي بېلابېل غږونهٔ تولیدوي، نو لازمه ده چي پهٔ فونیټیکي الفبا کي ورته ځانګړې نښي را منځته شي تر څو لوستونکي وکولی شي پهٔ اسانهٔ توګه تری مطلب او پوهاوی وکړي.

۹ ـ د یوې ژبي یا هم د ژبو لهٔ پاره د فونیټیکي الفبا جوړونه د ژبپوهانو او متخصصو اشخاصو کار دی، چي د هرې ژبې لهٔ پاره د هماغي ژبي د اکاډمیکو اصولو لهٔ مخي دا کار ترسره کیږي. خو لهٔ بده مرغه زموږ پهٔ پښتو ژبه کي دا کار د یوې اکادمیکي پروسي پرته پهٔ ځانګړې توګه ترسره کیږي، چي پهٔ یاده برخه کي هم لیکوالان او هم اړوند اکادمیک مراجع ګرم بلل کیږي...

**ماخذونه:**


۱ ـ ثمره، یدالله. آواشناسي زبان فارسي، چاپ: ایران، ۱۳۹۵...

۲ ـ حق شناس، علی محمد. آواشناسی، چاپ: ایران، ۱۳۹۰...

۳ ـ فردینان دوسوسور، ترجمه: کورش صفوي. زبانشناسی عمومی، چاپ : تهران ( ۱۳۷۸ )

۴ ـ زیار، مجاور احمد، پښتو پښویه. چاپ: کابل ۱۳۹۰

۵ ـ مشکوت الدیني، مهدی. ساخت آوایی زبان. چاپ: مشهد ۱۳۶۴

6) https://l.facebook.com/l.php?u=https%3A%2F%2Fwww.internationalphoneticalphabet.org%2Fipa-sounds%2Fipa-chart-with-sounds%2F%3Ffbclid%3DIwAR0d8wfASTXO3z2Jj3iOE_8vQo-cEZxUb5zlnzXr3nJjU1ZcfzZvY1_3u4g&h=AT1ESZmP1bOKKBDBk14qK3qMAK-ffm_yCTSp4nRP_7rKJuOyvrximtg9FZ1NXg6m-LOiTyQa_u7lWpl3Gs0B32guyMkBgFN05tt8zoFE70aO-degKpJGqrja0ZPLXaf4fHo





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ